# د اسلام سیاسي نظام او ډموکراسي

قدرت الله ځواک

**سریزه:**

ان الدین عندالله الاسلام. الآیه. اسلام د ټولو پیغمبرانو دین او دکایناتو د خالق لخوا د لارښوونې او هراړخیزه تکامل اوسعادت لپاره یواځنۍ لار ده. قلنا اهبطو منها جمیعا فاما یاتینکم منی هدی فمن هدای فلا خوف علیهم ولا هم یحزنون. الآیه. ومو ویل: ښکته شئ ټول (بشریت) له (جنت څخه) او که چیري زما لخوا تاسو ته هدایت (لارښوونه) درځي نو چا چي زما د هدایت متابعت وکړ هغوي به په بشپړ او هراړخیزه امنیت کي وي او له راتلونکي څخه به هیڅ ډول تشویش او غم نه لري. اسلام د ژوند کولو یو جامع او کامل لار ده او دبشري ژوند د تنیظیمولو اصول او د هراړخیزه پرمختګ پرنسیپونه کي یې په ځان کي رانغاړلي دي. لنډه دا چي اسلام هم سیاست دي، هم اقتصاد، هم کلتور او هم د ټولنیز ژوند بنسټ.

ډیموکراسي له یونان څخه رازیږیدلي او په لغوي لحاظ د (**DEMOS**) یعني وګړي او (**KRATOS**) یعني حکومت ترکیب دي.ډیموکراسي د هغو سیاسي-حقوقي اصولو ټولګه دهچي د سیاسي واک د اعمال ډول یا شکل بیانوي، په لنډو الفاظو د دولت د تشکیل، صلاحیتونو او مکلفیتونو او د سیاسي واک د عملي کولو اصولي چوکاټونه راپیژني. ډیموکراسي د تاریخ په اوږدو کي د مختلفو پوهانو لخوا په بېلابېلو ډولونو تعبیر شوي او یو ځانګړي ټولو ته د منلو وړ مفهوم نه لري.

د ډیموکراسي ځانګړي سیاسي مفهوم ته په کتلو سره زما وړاندیز دادی چي دغه بحث د اسلام اوډیموکراسي څخه چي په شکلي او ماهوي لحاظ دوه هم وزنه پدیدې نه دي د اسلام سیاسي نظام او ډیموکراسي تر عنوان لاندي پرمخ بوزو.

له دې لنډې مقدمي وروسته خپل بحث په دریو برخو ویشو:

- د اسلام د سیاسي نظام لنډه پیژندنه
- د ډیموکراسي نځوړ
- د اسلام د سیاسي نظام او ډیموکراسي تر منځ اړیکي

**د اسلام د سیاسي نظام لنډه پیژندنه**

اسلام د یوه جامع دین په حیث په سیاسي ډګر کې ډېر اصول او پرانسیپونه لري، د اسلام سیاسي نظام ته خلافت (د اهل تسنن له نظره) یا امامت (د اهل تشیع له نظره) ویل کیږي. خداي پاک د انسان د خلقت په هکله ملایکو ته داسي خطاب کوي: زه په ځمکه کې خلیفه مقرروم. یعني انسان په ځمکه کې بلاتشبیه د خداي پاک نایب الحکومه دي. په دې مفهوم کې خداي پاک ټولو انسانانو ته د سیاسي کیدلو ترغیب ورکوي نو هر مسلمان باید چي سیاسي وي. اوس به د خلافت یا د اسلام د سیاسي نظام مهم بنسټونه او ستني تر بحث لاندي ونیسو:

1. خلافت انتخابي دي:خلیفه یا د اسلامي دولت رئیس او لوړ پوړي سیاسي چارواکي د خلګو په خوښه او انتخاب ټاکل کیږي او د زور او وراثت له لیاري نه انتصابیږي. په اسلامي سیاسي فرهنګ کې د راي ورکولو او انتخاباتو پرځاي د بیعت پر اصطلاح ډېر ټینګار شوي، چي د انتخاب یا راي ورکولو هم مفهومه دي. د اسلام لومړي، دویم، دریم او څلورم خلفا د بیعت له لیاري سیاسي واک ته رسیدلي دي.
تاریخي روایت دي چي ابوبکر[رض] وروسته له دې چي د مدیني منوري د خلګو لخوا ورسره بیعت وشو، څو میاشتي نور هم اجرات نه کول او منتظر وو ترڅو د ټولو اسلامي قبایلو او ښارونو څخه دده په نامه بیعت راشي، او همدارنګه نورو راشده خلفاوو.

2. اسلامي سیاسي نظام کې واک ویشل شوي: خلیفه یا د اسلام د سیاسي نظام لومړي شخص د اوسنیو سیاسي رژیمونو د جمهور رئیس په شان تقنیني، قضایي او اجرایي صلاحیتونه لري، خو په اسلام کې تقنیني چاري د اهل حل و عقد شورا ( د اوسنیو پارلمانون معادل) ته، قضایي چاري مخکښو فقهاوو او قاضیانو ته او اجرایي چاري نورو مامورینو او څارګرو ته سپارل شوي دي. یعني د سیاسي واک دغه درې مهمي برخې په بشپړ ډول دخلیفه په لاس کې نه دي.

3. د اسلام سیاسي نظام شورایي دي: د اسلام سیاسي نظام پرجمعي پریکړو ولاړه ده او خودسري او دیکتاتوري ته په کې ځاي نشته. لکه خداي پاک چي رسول الله[ص] ته امر کوي ( و شاورهم...) او یا چي فرمایي( و امرهم شوراي بینهم).

4. د اسلام سیاسي نظام د خلکو پروړاندي مسئوله ده: د اسلامي ټولني هر وګړي کولای شي، چي هر وقت او په هر ځاي کي د دولت پر کړنو نیوکه وکړي او مسئولین باید یا قناعت ورکړي او یا به مجازات او ګوښه کیږي. پر دولت نیوکه په اسلام کي د جواز ترڅنګ په ځینو حالاتو کي واجب دي.

5. مدني حکومت: د اسلام سیاسي نظام کي دا ګنجایش نشته چي یو څوک دې د خدای د استازي په نامه پر خلکو حکومت وکړي او د منځنیو پیړیو کلیسایي نظامونو په څېر هر څه یې چي زړه وغواړي د دین په نامه پر خلکو تحمیل کړي. اسلامي سیاسي نظام د مخکي وضع شویو انساني اصولو په چوکاټ کي پر مخ وړل کیږي او هېڅوک نشي کولی له دغو حدودو څخه سرغړونه وکړي.

6. د بشر اساسي حقوق: اسلام له بل هر مسلک څخه انساني ارزښتونو ته زیات پابند دی او د بشر اساسي حقوق یې په بشپړ ډول خوندي کړي دي. په اسلامي ټولنه کي هېڅوک د خپلې عقیدې، نژاد، رنګ، جنس او فکر پر بنسټ نه زورول کیږي. په اسلام کي د هېڅ ډول تبعیض او توپیر ګنجایش نشته. په اسلامي خاوره کي دیني اقلیتونه د (ذمي) او (مستامن) په توګه په بشپړ ډول د عقیدې له آزادۍ څخه برخمن دي. پر دوی له ټولنیز نظم او عامه منافعو وراخوا هېڅ ډول دیني احکام نه تطبیقیږي. دیني اقلیتونه کولی شي د دولت په سیاسي جوړښت کي ونډه ولري او وزارتونو ته وټاکل شي.

7. د خدای پاک حاکمیت (د خلکو حاکمیت): حاکمیت یا د دولت عالي قدرت په اسلامي سیاسي نظام کي د کایناتو د خالق او شارع سره دی چي د خلکو په واسطه د شریعت د اصولو په رڼا کي تمثیلیږي. په دې مفهوم چي خلک تر هغه ځایه کامل الاختیاره دي چي د اسلام له اصولو سره متناقض عمل تر سره نکړي.

8. عدالت: عدالت د ظلم په مقابل کي استعمالیږي او د هرې پدیدې پر خپل ځای کارولو ته عدالت ویل کیږي. عدالت له مساواتو څخه پراخه، هراړخیزه او په ډېرو مواردو د تطبیق وړ مفهوم لري. د اسلام بنسټ پر عدالت ایښودل شوی. د اسلام سیاسي نظام د عادل ټولواک غوښتونکی دی او له جابرو پادشاهانو سره د مبارزې درس ورکوي.

د اسلام د سیاسي نظام پورتنیو بنسټونو ته په کتلو سره دغه نظام داسې تعریفولای شو چې: هغه مدني – انتخابي نظام دی چې د شارع په نیابت د خلکو لخوا د ټولنې چارو ته په مسئولانه ډول او د شورا د اصل په رڼا کې، سمون ورکوي.

### د ډیموکراسۍ نځوړ

مخکې مو وویل چې ډیموکراسي د ټولو پوهانو پر وړاندې یو ځانګړی او متحد مفهوم نلري او د تاریخ په اوږدو کې په بېلابېلو ډولونو معرفي او را څرګند شوی دی خو په ټولو تعریفونو او مفاهیمو چې ډیموکراسۍ ته ورکول کیږي یو شو مشترک اصول او ټکي شته چې مونږ یې په لنډ ډول په لاندې توګه خلاصه کوو:

1. سیاسي واک کې د خلکو ګډون: ډیموکراسي په سیاسي واک کې د وګړو پر ګډون ډېر ټینګار کوي. په یو ډیموکراتیک نظام کې هر وګړی کولی شي رای ورکړي، ځان کاندید کړي، د دولت له کړنو نظارت وکړي او پر دولت نیوکه وکړي.
2. مساوات: په یوه ډیموکراتیکه ټولنه کې ټول وګړي برابر حقوق او فرصتونه لري او له هېڅ سره هېڅ ډول تبعیض نه کیږي.
3. سیاسي زغم: په ډیموکراتیکو دولتونو کې هر وګړی، ډله او سیاسي ګوند د سیاسي زغم درلودونکی دی او د ټاکنو پایلې په سوله ایز ډول منل کیږي. اقلیتونه په امن کې دي او سیاسي واک د زورولو وسیله نده.
4. محاسبه یا مسئولیت: په ډیموکراسۍ کې سیاسي واک د خلکو پر وړاندې مسئول دی او د دولت هر مقام خلکو/د خلکو استازو ته له خپلو کړنو ځواب ویونکی دی.
5. شفافیت: په یو ډیموکراتیک دولت کې د چارو د تنظیم او شفافیت په موخه خلک د رسنیو او خپلو استازو له لیارې په دولت کې مداخله لري او عامه افکار د دولت په کړنو کې د شفافیت لامل ګرځي.
6. ټول ټاکني یا انتخابات: په دیموکراتیکو ټولنو کې په همیشني ډول ټول ټاکني ترسره کیږي او خلګ د ټول ټاکنو له لیاري خپلو استازي او نورو دولتي مقاماتو ته رایه ورکوي.
7. د سیاسي واک وېش: ډیموکراسي د سیاسي واک پر ویش باور مند دي او په یوه شخص یا ډله کې د واک له تجمع څخه مخنیوي کوي ترڅو د سیاسي واک څخه د ناوړه ګټپاخیستې مخه ونیول شي.

8. د بشر بنسټيز حقوق: ټولي ډيموکراتيکې ټولني د بشر حقوقو ته درناوي لري او دهغو ساتنه کوي، د ژوند کولو، آزادي، عقيدي، بيان ... حقوق په ډيموکراسی کي خوندي دي.
9. څوګوندي سيستم: ډيموکراسي کي سياسي واک ته درسيدا لپاره بايد رقابت وشي تر څو خلک له دوو/څو څخه د يوه د انتخاب حق ولري، په يوه ډيموکراتيکه ټولنه کي حتما له يوه څخه زيات ګوندونه شتون لري.
10. د قانون حاکميت: په يوه ډيموکراتيکه ټولنه کي قانون حاکم وي او سيلقوي فيصلو ته په کي ځاي نشته.

پورتني لسګوني اصول په يوه جمله کي داسي خلاصه کوو:ډيموکراسي د خلکو په واسطه د مساواتو او قانون په رڼا کي له هغه سياسي سيستم څخه عبارت دي چي سياسي واک په کي ويشل شوي، د بشر حقوق په کي خوندي دي او دولت د خلګو پروړاندي په کي مسئوليت لري.

**د اسلام سياسي نظام او ډيموکراسی اړيکي**

له دي بحث څخه مو موخه داده، چي وڅيړو آيا ډيموکراسي د اسلام له سياسي نظام سره تناقض لري، او کنه، د ډيموکراسي ماهيت او د اسلام د سياسي نظام محتوا سره منطبق دي او د دواړو ترمنځ په ټوليزه توګه کوم توپير او تناقض نشته.

د دې پوښتني د ځواب اړوند په اسلامي امت کي درې ډوله فکري جريانونه په موازي شکل په جريان کي دي، چي هر يو يې په لنډ ډول ترڅيړنې لاندې نيسو:

1 . افراطيون: د دغه فکري جريان په استدلال، له هغه ځايه چي ډيموکراسي يوه غربي- وارداتي مفکوره ده او ډير ټينګار يې د خلکو په مطلقه آزادي، د دين او سياست په بېلوالي او ملت پالنې دي، نو ځکه د اسلامي ارزښتونو په نظر کي نيولو سره په هيڅ صورت د منلو وړ ندي.

2 . اسلامي سيکولرستان: په اسلامي نړۍ کې يو فکري جريان داسې هم دي، چي غواړي د نړۍ د ختيز او لويديز ترمنځ شته حساسيتونه له منځه يو سي او په دې لاره کي دومره مخکې ځي، چي ځيني منل شوي اسلامي ارزښتونه تر پښو لاندې کوي او اسلام( په ځانګړي توګه د اسلام سياسي نظام) د غرب سيکولرستي افکارو تابع کوي. ددو په اند اسلام او ډيموکراسي په ماهيت او شکل دواړو کي هيڅ ډول

ستونزه نه لري او مونږ کولاي شو په یوه اسلامي هیواد کښي یو ډیموکراتیک (سیکولر) نظام رامنځ ته کړو.

3. منځلاري: دغه فکري جریان ددوو پورتنیو جریانونو ترمنځ موقعیت لري. د دوي په اند که چیري ډیموکراسي یو داسي حکومت ته ویل کیږي، چي هغه د خلګو لخوا ټاکل شوي او خلګو ته مسئول وي نو په دې صورت ډیموکراسي اود اسلام سیاسي نظام سره منطبق دي او ډیموکراسي د اسلام د سیاسي نظام یوه برخه ده. د دوی په اند د ډیموکراسي له ماهیت څخه دا نه ښکاري، چي یو ډیموکراتیک نظام به حتما سیکولر هم وي.

که اسلامی نظام د دموکراسی سره یو شان وی نو بیا لویدیز ولی د یموکراسی منی او اسلام نه منی او حتی د اسلامی نظا م او شریعت سره تر اخری کچی دشمنی لری ، که دوی رښتنی د د موکراسی نظام عاشقان وی په اسلامی نړی یا اسلامی هیوادونو کی به یی د دموکراسی د اسلامی نظام او اسلامی شریعت په عملی کولو او پیاده کولو ، دموکراسی تطبیقه کړی وی . ولی دوی برخلاف دوی د اسلامی نظام سره نه پخلا کیدونکی دشمنی لری.

ستاسی غلط فهمی په همدی ټکی کی ده ، اوسنی لویدیز سرمایداری هیوادونه د اوسنی نړیوال استعمار نمایندګی کوی ، استعمار څه ته وایی ، استعمار د خلکو استثمارولو او غلامولو ته وایی ،. د خلکو استثمارول او غلامول کله ممکن دی چه جنګونه او ګډوډی وی ، جنګونه او ګډوډی د نه عدالت څخه رامنځته کیږی نه عدالت د ښه اساسی قانون او عادل مدبر نظام په نه شتون کی رامنځته کیږی یعنی کله چه د عدل قانون او د عدل حکومت شتون ونه لری فساد او د بی ګناه وینو تویول رامنځته کیږی ، دغه وخت دی چه استثمار او فساد اخری اوچتی کچی ته رسیږی.

نو که ستاسی له فارمول له مخی ، مثلا زمونږ هیواد ، مصر پاکستان او نوری دریمی نړی هیوادونو کی د وی دموکراسی رامنخته کوی او د موکراسی د خلکو حکومت د خلکو له خوا په خلکو وی یعنی د عدل نظام شو او د دموکراسی د عدل قانون له مخی پکی فیصلی کیږی ، نو بیا ولی پکی د عدل په ځای فسادونه او وینی بهیږی ؟

دا منم چه دوی په خوله هغه څه وایی هغه په عمل کی بل څه دی ، کمونستانو هم څه چه په خوله ویل په عملکی هغه د خلکو د تیرویستنی د پاره وو . اسلام کی بیا دا نشته هر څه چه وی هغه باید عملی شی او که نه هغه بیا اسلام نه دی ، حتی د اسلامی نظام سره یی بدبینی د همدی امله دی چه اسلام د سولی او عدالت دین دی د پوره نظام ، تدبر او مثبت سیاست دین دی ، کله چه سوله رامنځته کیږی هلته جنګ نه وی

چیرته چه جنګ نه وی هلته استثمار نه وی او هلته استعمار نه وی ، که سوله د جنګ مخالفه ده استعمار بیا د اسلامی نظام اودموکراسی بیا د اسلامی عدالت مخالفه ده ، نو تاسی ته د دوی د میدیا په واسطه غلط فهمی رامنخته شوی ،
نتیچه : که ستاسی د خبرو په تایید اسلامی نظام د دموکراسی سره په تکر کی نه وی دا معنی چه په فطرت کی هر څه سره یوشان دی یعنی تور د سپین ، رڼا د تاارېکی او کفر د اسلام سره توپیر نه لری ، جهل د علم ، وران د سم او عدالت د ظلم سره هیڅ توپیر نه لری . نو بیا د هر کار کول جواز لری قانون او حکومت کولو ته اړه هم نشته ځکه هر بد کار ښه او هر ښه کار بد دی نو جرم بیا معنی نه لری او چه جرم معنی ونه لری پولیس ، قانون ، قضا او حکومت هم معنی نه لری.

---

د ديموکراسۍ حقیقت او د اسلام سره تضاد
راټولونه او ترتیب: محمد شفيع صميمي/تعليم الاسلام ويب پاڼه
د پوهنتون مونوګراپ
تعريف
ديموكراسي يوه يوناني اصطلاح ده، چې له دوه کلمو څخه جوړه شوې ده، Demos(دموس) او Kratos (کراتوس) چې، Demosد اولس او خلکو په معني دي، اوKratos د واک، سلطې او حکم په معني دي).۱(
که چېرې په مرکب ډول وژباړل شي نو د ولسواکۍ او د خلکو د حکومت معني ورکوي.
د ديموکراسۍ لپاره مفکرينو مختلف تعريفات وړاندې کړي دي چې د ټولو ذکر کول ددې رسالې له زغم څخه وتلې ده، موږ به يې دلته ځيني مشهور او عام تعريفات ذکر کړو.
کارل کوهن وايي: ديموکراسي داسې ټولنيز حکومت دی چې د ټولنې ټول افراد د دولت په تصاميمو کې په مستقيمه توګه برخه اخلي) .۲(
ابراهام لېنکن د امريکا د وخت ولسمشر ديموکراسي داسې تعريفوي: د خلکو حکومت د خلکو پواسطه د خلکو لپاره.
ځينو غربي مفکرينو د ديموکراسۍ تعريف داسې کړي دي:

حاکمیت دوه شکلونه لري، چې یو یې د قوانینو او نظام شکل او بل یې تنفیذي او اجرایي شکل دي، چې په ولسواکي کې همدا دواړه د حاکمیت شکلونه تر خلکو پورې تعلق لري یعنې خلک به قانون جوړوي او همدا د خلکو قانون به د همدوي پواسطه پلي کیږي.

اصطلاحي معنی:

د پورتنیو لغوي او اصطلاحي تعریفاتو له تحلیل او څیړنې وروسته کولای شو د دیموکراسۍ لپاره عام تعریف په لاندې ډول وړاندې کړو: دیموکراسي له یوه اجتماعي، سیاسي، فکري او په دین نه ولاړ نظام څخه عبارت دی، چې په هغه کې تشریع، قانون او فیصله د خلکو واک دی او هیڅ قید او پوله پکې ځای نه لري. د دیموکراسۍ (ولسواکۍ) له نامه څخه دا څرګندیږي چې دا داسې یو نظام دي چې اسماني دین، وحې او رسالت پکې هیڅ ځای نلري، او د نظام ټول واک خلکو ته سپارل شوی دی.

د دیموکراسۍ نشأت او تاریخي مسیر

دیموکراسي تقریباً دوه نیم زره کلن قدامت لري، چې ریښې یې پنځه پېړۍ قبل المیلاد ته رسیږي، د یونان د آتن ښار د دیموکراسۍ لومړنې د ظهور ځای بلل کیږي. د دیموکراسۍ د راپیدا کېدو وخت د ارسطو او افلاطون د ژوند دور وو، نوموړو فیلسوفانو هم د دیموکراسۍ په هکله په خپلو تألیفاتو کې مفصلې خبرې کړې دي.

په یونان کې ټول اولس د قوانینو په جوړولو او حکومت کولو کې نېغ په نېغه ونډه درلوده، پرته له ښځو او غلامانو څخه، چې دوي ته په یادو برخو کې حق نه ورکول کېده. همدارنګه په روم کې هم مخکې د امپراطورۍ له دورې د دیموکراسۍ ځینې ابعاد لیدل شوي دي).۳(

په اروپا کې په تېره بیا په غربي او منځنۍ اروپا کې دیموکراسي هغه وخت مطرح شوه او قوت یې وموند، چې کلیسا او روحانیون په افراطي ډول فاسد شوي وو او له خپل دین څخه یې د خپلو اغراضو لپاره ګټه اخیستله، او اهل کلیسا دین د خپلو خواهشاتو د تحقق لپاره په بې باکي سره تحریف کړي وو او د آسماني وحې ډېر څه پکې نه وه پاتې.

د کلیسا فاسد مشران او متعلیقین خلک یوازې د خپل خدمت لپاره استعمالول، هیڅ حقوق یې نه ورکول، د دین په نامه یې له خلکو پیسې اخستې، د خلکو وینې یې تویولې، د علمي پرمختګ سخت مخالف وو او ساینس پوهان یې وژل او تکفیرول یې، د صکوک الغفران په نامه یې خلکو ته د ښټنې سندونه ورکول، د جنت ځمکه یې خرڅوله او... د کلیسا ددغه ظلم او زیاتي سره ولس سخت په عذاب وو او تر ډېر فشار

لاندې وو، بلاخره خلک مجبوره شول، چې د دغه وضعیت په مقابل کې راپورته شي او له دین او کلیسا څخه خپله بېزاري او نفرت څرګند کړي.
په دغه وخت کې د اولس له منځه دوه ډلې فیلسوفان د دین سره د مقابلې په غرض راپورته شول. یوې ډلې وویل، داسې دین چې خلکو ته هېڅ حق نه ورکوي، په خلکو ظلم او زیاتې کوي باید بیخي له منځه یوړل شي او له ژوند او دولت څخه په کلي ډول لیرې وساتل شي، یعنې دوي دین په مطلق ډول رد کړ. بله ډله له فیلسوفانو څخه بیا پدې معتقد وو، چې دین هم یو اخلاقي او اجتماعي ضرورت دی، دین دې هم موجود وي خو په شخصي ژوند کې دین نه په کلي ډول باید رد کړل شي او نه هم د دولت اساس وګرځول شي، دین باید له دولت جدا او افراد کولاي شي په شخصي ژوند کې وربانديې عمل وکړي، یعنې دوي یوه منځنۍ حل لاره وړاندې کړه چې له همدغه ځایه دیموکراسي په قوت او زور سره مطرح شوه. دا هر څه هغه وخت پېښ شول، چې معاصر دولتونه رامنځته شول او دا وخت اوولسمه میلادي پېړۍ وه. (اوس کفري نړۍ هم کوښښ کوي چې د اسلام سره دغه چلند وکړي).
په انګلستان کې د ۱۶۸۸م کال د انقلاب په رامنځته کېدو سره د (سلطنت یو الهي حق دی) مفکوره مردوده وګڼل شوه او ولسواکۍ ته لاره هواره شوه. همدا رنګه د امریکا د ۱۷۷۶م انقلاب او د امریکا د ۱۷۸۷م کال آساسي قانون د آزاد خیالۍ د تفکر لپاره زمینه برابره کړه. د اروپا په انقلابونو کې چې د آزادۍ او بشري حاکمیت لپاره یې ډېره زمینه برابره کړه د فرانسي انقلاب وو، په ۱۷۸۹م کال کې چې خلکو د (مساوات، وروروليۍ او آزادۍ) شعارونه پورته کړي وو. په هر حال د دیموکراسۍ اصول او ارزښتونه اکثریت غربي هېوادونو د نولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې و منل او په دولتي سطحه یې د دیموکراسۍ د ترویج لپاره هلې ځلې پیل کړې.
د دیموکراسۍ د فکر په پرمختګ کې ډېرو غربي مفکرینو مهم رول ولوباوه، چې د هغې له جملې څخه د جانلاک، مونتیسکو، ژانژاک روسو او ویلیام جېمز نومونه د یادونې وړ دي، چې په خپل وخت کې هر یوه د دیموکراتیک فکر لپاره عامه ذهنیت ډېر مساعد کړي دي. دیموکرسي په لومړي ځل د وضعي قوانینو لخوا په فرانسه کې ومنل شوه، د فرانسي د ۱۷۹۱م کال په آساسي قانون کې تضمین شوه، د فرانسي د آساسي قانون په یوه ماده کې داسې راغلي دي:
سیادت د ملت حق دی، هېڅ تجزیه او تنازل نه قبلوي).۴(
د ذکر شوې مادې د صراحت څخه دا په ډاګه څرګندیږي چې دیموکراسي د فرانسې دولت په یاده مقطع زماني کې رسماً قبوله کړې ده او حتي په حاکمیت کې بدون له اولس بل څوک شریک نه بولي.
ډیموکراسي د اسلام پر خاوره

کافر غرب د دیموکراسۍ فکر او نظام هغه وخت اسلامي هېوادونو ته راوړ، چې د مسلمانانو د عزت او عفت ځلي یعنې اسلامي خلافت د کفارو د پرله پسې فکري او جنګي یرغلونو وروسته له منځه ولاړ او یو اسلامي دار په لسګونو ټوټو ووېشل شو او په هره برخه یې زورواکي او هغه کسان واکمن شول، چې د غرب او صلیبي ښکېلاک مزدوري او چاپلوسي یې قدرت ته د رسېدو په خاطر کلونه کړې وه. د همدغو ګوډاګیو او لاسپوڅو مشرانو په استفادې کافر غرب وکولای شول، چې په اسلامي خاورو کې خلک له دیموکراتیک فکر سره آشنا او عادي کړي.

نن سبا په اسلامي هېوادونو کې د ګوتو په شمېر به داسې وي چې په قوانینو کې یې (دیموکراتیک نظام) نه وي منل شوی او د دیموکراسۍ اصطلاح به نه وي کارول شوې. او لا رأس الطاغوت، د امریکا متحده ایالات په پرله پسې توګه هلې ځلې کوي، چې هغه اسلامي خاورې چې دیموکراسي لا تر اوسه پکې نه ده مطرح شوې هلته هم دغه د ضلالت او حیوانیت فکر خپور کړي. او مسلمانان نور هم له خپل دین او عقیدې لیرې او بې خبره وساتي، تر څو دوي یې له مقابلې او مبارزې څخه بېغمه اسلامي امت استعمار کړي).۱(

د دیموکراسۍ غولونکي اهداف

د دیموکراسۍ غربي مفکرینو د خپلې غربي دیموکراسۍ اهداف او مقاصد چې له غلو، اغراق، مبالغې او عوام غولولو څخه ډک دي په لاندې ډول توضېح او بیان کړي دي:

۱ -د عوامو د ژوند هر اړخیز لوړوالي او هوساینه.

۲ -داسې حکومت جوړول چې د عوامو په خوښه وي.

۳ -د ملت په اکثریت پرېکړه کول او اکثریت معیار ګرځول.

۴ -دیموکراسي داسې نظام کول دي چې د لږکیو حقوق پکې خوندي وي، یعنې اګر که اکثریت حکم دي، خو د لږکیو حقوق باید ثابت او خوندي وي.

۵ -د دیموکراسۍ نظام داسې یو نظام دی چې د بشري اساسي حقوقو تضمین کوونکي دی.

۶ -خپلواکه او عادلانه انتخابات د حکومت د ټاکلو لپاره.

۷ -د هېواد د قانون په وړاندې د ټولو خلکو د برابرۍ ثابتول، پدې معنې چې ټول وګړي که شتمن وي که غریب، که حاکم وي که محکوم، ټول به د قانون په وړاندې مساوي وي یو شان قانوني برخورد ورسره کیږي.

۸ -د قانون سم او پر ځاي تطبیق کول، تر څو د ظلم او تیري مخه ونیول شي.

۹ -حکومت باید د قانون په حدودو کې حکومت وکړي او د هغوي د خپل سرۍ مخه نیول.

۱۰ -په ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې تعدد د احزابو را منځته کول.

۱۱ -حقیقت خوښونه، خپل منځي تفاهم او مرستو ته ارزښت ورکول.

د دیموکراسۍ مداریانو، امریکایي چلبازانو او د بشر د دښمنانو دغه پورتني یوولس موارد سربېره پر دې، چې د دیموکراسۍ د کفري نظام اهداف ګرځولي دي، د دیموکراسۍ داسې ستنې ګڼلې دي، چې د دیموکراسۍ تعبیري وجود یې له دغو افسانوي او بې حقیقته زړه وړونکو امورو پرته غیر متصور ګڼلي دی. دا ځکه چې دغه امور په هېڅ دیموکراتیک، لبرال او آزاد خیاله هېواد کې ندي عملي کړاي شوي، نه په امریکا، نه په انګلستان، نه په فرانسه او نه هم په بل هېڅ غربي او شرقي هېواد کې، بلکې دا یو متعصب او فاشیست نظام جوړ شوي دی).۵(

د دیموکراسۍ سره ځیني تړلي اصطلاحات

تیوکراسي: دا هم یوه یوناني کلمه ده، چې تیو معنی (دین) او کراسي معنی (حکم) چې عامه معني یې داسې ده، هغه حکم چې الله جل جلاله ورته ښنلي دي، پدې معني، چې حاکم د الله جل جلاله لخوا اختیاریږي، د هغه په نامه به پرېکړې کوي او خپل واک به د هغه څخه تر لاسه کوي، پخپل چاپېریال کې به زیات شمېر کاهنان راټولوي او د دوی په وسیله به خلک د خپل ځان تابع ګرځوي. دغه معني په ټولنه کې د اروپایي تاریخ څخه اخیستل شوې، چې د اسلامي عقیدې او مفاهیمو سره سمون نخوري. ځکه د اسلامي امت مشر په هغه ډول چې تیوکراتان یې قایل دي نه ټاکل کیږي، او نه هم دوی اختیار لري چې د هغه الله جل جلاله په نامه فیصله او پرېکړه وکړي، بلکې د اولس لخوا به ټاکل کیږي او د الله جل جلاله د احکامو په پلي کولو به له اولس څخه نمایندګي کوي. پر دې علاوه په اسلام کې د دیني کسانو په نامه ځانګړې ډله او د کاهنانو ډله شتون نه لري، بلکې علماء موجود دي، چې د علم په مختلفو فنونو کې مهارت او وړتیا لري، چې دغه علماء واک نه لري او دوي ته اجازه نشته، چې د قاطع نص (ایت او حدیث) په موجودیت کې اجتهاد وکړي، تشریع او قانون جوړ کړي.

د پورتنیو توضیحاتو په پام کې نیولوسره دې پایلې ته رسیږو، چې نوموړې اصطلاح د اسلام سره تړاو نلري او دا د اروپایي تحریف شوي عیسویت او فیلسوفانو د افکارو زیږنده یوه پردۍ اصطلاح ده. خو تیوکراتیزم داسې یوه اصطلاح ده، چې تر هغې مفکورې پورې تړاو ورکول کیږي، چې د خلکو سیاسي چارې تر دیني او غیبي اساساتو پورې تړي، تیوکراتیزم مختلف اشکال لري....

د دیموکراسۍ اصول او بنسټونه

هر نظام په یو لړ اصولو او بنسټونو ولاړ وي، د دیموکراسی نظام هم دوه بنسټیز اصول لري، که چېرې یو له دغو اصولو په یو نظام کې موجود نه وي، دیموکراتیک نظام نه بلل کیږي. چې عبارت دي له:

الف- سیادت (اعلي حاکمیت) اولس لره دی:

د سیادت تعریف داسې شوی دی: د امر او نهې هغه مطلقه اعلی سلطه ده، چې تر هغې لوړه او له هغې سره بله مساوي سلطه موجوده نه وي. د سیادت اصل په دوه برخو وېشل کیږي:

الف- د تقنین او تشریع برخه:

پدې معنی چې فیصله به د کوم قانون په اساس کیږي.

ب- د تنفیذ برخه: پدې معني چې د قانون پلي کوونکي حاکم به څوک وي، او څنګه به واک ته رسیږي؟

په دیموکراتیک نظام کې د تقنین (تشریع) د برخې ځانګړتیاوې:

١ -سیادت (اعلي حاکمیت) په مطلق ډول د اولس حق دی – نه د الله (نعوذبالله).

٢ -د اولس اراده مقدسه ده، د اولس د ارادې څوک مخالفت نشي کولای او نه ورباندې اعتراض کولاي شي، اولس چې څه غواړي همغه حق دی.

٣ -د حق د پېژندلو لپاره په دیموکراسی کې معیار جمهوریت او اکثریت دی، اکثریت چې څه غواړي همغه باید تر سره شي).۶(

۴ -د قانون د جوړولو مصدر عقل دی، څه شي ته چې عقل ښه ووایي هغه حق دی، او څه شی چې بد وګڼي هغه باطل دی. (عقل چې هر ډول پرېکړه وکړي...)

په دیموکراسی کې د تنفیذي قوې ځانګړتیاوې:

١ -حکومت به د خلکو لخوا ټاکل کیږي، د عامو انتخاباتو له لارې.

٢ -انتخابات به د داسې قانون په بنسټ تر سره کیږي چې دین په کې هېڅ نقش ونه لري.

٣ -په انتخاباتو کې به ټول خلک یو ډول سیاسي حقوق لري، یعنې که په هېواد کې هر څوک اوسیږي هغوي که د هر مذهب خاوندان وي یو ډول سیايي حقوق لري. یعنې د نر او ښځې، کافر او مسلمان ټول یو شان حقوق لري هر یو د رایې ورکولو او کاندیدیدلو حق لري.

په ټاکنو کې عقل، علم، تجربه، تقوي، صالحیت او وړتیا هېڅ ارزښت نلري، د یو بېسواده، جاهل، ناپوه، فاسق او یو جید عالم رایه یو شان ده، هېڅ تفاوت نلري. په ټاکنو کې کاندیدان ډېر زیات مصارف او لګښتونه کوي، تر څو خلک په ځان را ټول کړي او کاندیدان په درواغو، چل او فرېب سره ځان خلکو ته لوړ شخصیت او د ملت په مصالحو پوه او متعهد شخص ځان معرفي کړي.

ب- د حقوقو او آزاديو اصل:

په ديموكراسی كې د سيادت له اصل وروسته بل اصل د حقوقو او آزاديو اصل دی، كه چېرته دا اصل تطبيق نشي، نو ديموكراسي هېڅ معني نلري. يعنې هر هغه نظام چې غواړي ديموكراتيک ځان جوړ كړي د ديموكراسۍ په آزاديو او حقوقو باندې بايد اعتراف وكړي او هغه ومني، كه يې و نه مني، نو ديموكراتيک او جمهوري نظامونه نه بلل كيږي. د ديموكراسۍ آزاديګانې او حقوق په لاندې ډول دي:

۱-د عقيدې آزادي

۲-د بيان آزادي

۳ -د ملكيت آزادي

۴ -شخصي آزادي

د ديموكراسۍ د اصولو او بنسټونو مناقشه د اسلام په رڼا كې

سيادت په اسلام كې الله جل جلاله لره دی:

دا چې سيادت (اعلي حاكميت) يوازې تر الله جل جلاله پورې تعلق لري، د قرآنكريم، سنتو او اجماع متعدد نصوص پدې په قاطع او صريح ډول دلالت كوي، چې ځينې له هغو په لاندې ډول ستاسو قدرمنو لوستونكو مخې ته ايږدم:

الف- د كتاب الله نصوص:

لانديني آيتونه په واضح ډول حاكميت الله جل جلاله ته منسوبوي:

۱ -الله جل جلاله فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً. (النساء ۵۹)

ژباړه: اي مؤمنانو د الله اطاعت وكړئ او د الله د رسول اطاعت وكړئ او له تاسو څخه د هغه چا اطاعت وكړئ، چې د حكم او امر خاوندان وي. كه چېرې په كوم شي كې شخړه او منازعه رامنځته شي الله او رسول (كتاب الله او سنت) ته يې راجع كړئ، كه تاسې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لرئ، دغه كار غوره او انجام يې ښه دی.

دغه مبارک آيت پدې دلالت كوي، چې د شخړې او منازعې د حل مراجع قرآن او سنت دي).۷(

۲ -الله جل جلاله فرمايي: فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (النساء ۶۵)

ژباړه: قسم دی په رب ستا، چې نه مؤمنان کيږي دوی تر هغه پورې، چې تا حکم او فيصله کوونکي نه کړي په هغو شخړو کې، چې پېښې شوي دي د دوی په منځ کې او بيا ونه مومي پخپلو زړونو کې ناراضي ستا له فيصلې او و مني ستا خبره په منلو سره (د زړه په خوښه بدون له جګړې).

په دغه آيت کې هم الله جل جلاله ايمان له هغه چا نفې کوي، چې په قرآن او سنتو حکم او فيصله نه کوي او ورباندې راضي نه وي). ۸(

۳ -الله جل جلاله فرمايي: إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَائِنِينَ خَصِيمًا. (النساء ۱۰۵)

ژباړه: بېشکه موږ درلېږلي تا ته کتاب (اي محمده) په حقه، چې فيصله وکړې د خلکو په منځ کې د ﷲ د لارښوونې په رڼا کې، او مه کېږه جګړه کوونکي د خاينو خلکو لپاره.

په دغه آيت کې دا ښودل شوې ده، چې د قرآن د نزول هدف دا دی، چې حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د هغه په لارښوونو د خلکو تر منځ پرېکړه وکړي او د خاينانو پلوي ونه کړي.

۴ -الله جل جلاله فرمايي: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا. (الاحزاب ۳۶)

ژباړه: هېڅ مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ته روا ندي، چې کله الله او رسول په يو کار کې فيصله وکړي ، چې وي دې دوی ته اختيار پخپل کار کې، او هر څوک چې نافرماني کوي د الله او د هغه د رسول په يقيني ډول ګمراه شو په ګمراهي ښکاره سره.

پورتني آيت پدې ټينګار کوي، چې په هر څه کې الله جل جلاله او رسول صلي الله عليه وسلم پرېکړه کړې وي، مؤمن مسلمان نشي کولاي، چې بيا د هغه پر خلاف ځانته دريځ اختيار کړي.

۵ -الله جل جلاله فرمايي: وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ ۚ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ... (المائده ۴۸)

ژباړه: او نازل کړي مو دي تا ته (اي محمده) قرآن په حقه سره، چې تصديق کوونکي دی د هغه کتاب، چې تر ده د مخه وو او ساتونکي دي د هغه د مضامينو، نو فيصله وکړه د دوی تر منځ په هغه کتاب، چې لېږلي يې دی تا ته او مه کوه متابعت د دوی د هيلو او آرزوګانو (مه اوړه) له هغه څخه، چې راغلي دی تا ته له حق څخه، موږ تاسې هر امت ته جلاجلا لار او شريعت ټاکلي دي.

په دغه آيت کې الله جل جلاله محمد صلي الله عليه وسلم ته امر کوي، چې د خلکو تر منځ دې په کتاب الله فيصله وکړي او د خلکو په رايو او خوښو پسې دې نه ګرځي.

۶ -الله جل جلاله فرمايي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالاً بَعِيدًا (۶۰) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا. (النساء ۶۰-۶۱)

ژباړه: آيا ته نه ګورې (اي محمده) هغه خلک چې ګومان کوي، چې په هغه کتاب يې ايمان راوړی دی، چې نازل شوی دی تا ته او هم په هغه، چې نازل شوي وو تر تا د مخه، غواړي د فيصلې لپاره وړاندې شي طاغوت (کعب بن اشرف يهودي) ته په داسې حال کې چې دوی ته امر شوی، چې په طاغوت کافر شئ (له هغه منکر شئ) او شيطان غواړي هغوي ډېر زيات ګمراهان کړي. او کله چې هغوی ته وويل شي، چې د الله نازل شوي کلام ته او رسول ته راشئ، نو ته وينې چې منافقان له تا څخه مخ اړوي.

دغه آيتونه هم هغه څوک مسلمان نه ګڼي، چې په قرآن د ايمان دعوې کوي، خو د شخړو د بروز په وخت کې پرېکړه او فيصله په بل قانون کوي او د قرآن قانون ته د فيصلې د وروړلو څخه مخ اړوي.

۷ -الله جل جلاله فرمايي: وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا. (النساء: ۱۱۵)

ژباړه: هر هغه څوک چې د رسول مخالفت وکړي وروسته تر هغه، چې د هدايت لاره ورته ښکاره شي او د مؤمنانو له لارې غير په بله لاره ولاړ شي، نو موږ به يې په همغه لور وګرځوو، چې دوی ورته ګرځېدلي دي، او جهنم ته به يې داخل کړو او جهنم ډېر بد د ورتګ ځاي دی.

په دغه آيت کې هم الله جل جلاله د هغه چا جهنم ته د ورداخلولو خبره کوي، چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلي الله عليه وسلم د قانون او طريقې مخالفت کوي.

۸ -الله جل جلاله فرمايي: ... وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (المائده ۴۴)

ژباړه: هغه کسان چې په هغه څه يې حکم ونه کړی، چې الله را نازل کړی دی، دوی کافران دي.

۹ -الله جل جلاله فرمايي: وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (المائده ۴۵)

ژباړه: هغه کسان چې د الله په را نازل شوې (وحې) حکم او فيصله و نه کړی همدوی ظالمان دي.

۱۰ -الله جل جلاله فرمايي: وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (المائده ۴۷(

ژباړه: هغه څوک چې په هغه څه، چې الله را نازل کړي حکم ونه کړی همدوی فاسقان دي.

پورتني ټول آيتونه او نور په لسګونو آيتونه په دې په قاطعيت او صراحت دلالت کوي، چې سيادت (اعلي حاکميت) يوازې او يوازې الله جل جلاله او د هغه را لېږل شوي شريعت ته حاصل دي. بايد شخړې او منازعات او نور د ژوند هر اړخيز مسائل په همدغه قانون باندې بايد فيصله شي او بل قانون ته فيصله

يوړل نه شي. او هغه څوک، چې د الله جل جلاله د قانون په مخالفت کې د خپل عقل په اساس قوانين وضع کوي، نو هغه د اسلام څخه وتلی دی او اسلام نور د دغسې افرادو په دائره کې ساتل نشي زغملای....

ب- نبوي احاديث:

لکه څنګه چې د الله جل جلاله کتاب په دې په قاطعيت دلالت کوي، چې سيادت الله جل جلاله او د هغه قانون لره دی، دغه شان د الله جل جلاله د استازي محمد صلي الله عليه وسلم نبوي مرغلرې هم په دې دلالت کوي، چې سيادت او حاکميت يوازې رب العلمين لره دی او د اولس حق نه دی او نه سيادت اولس لره حاصل دی. چې موږ به يې څو بېلګې درنو لوستونکو ته وړاندې کړو، چې په لاندې ډول دی:

عن القاسم بن محمد عن عائشة: أنّ رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: من عمل عملاً ليس عليه أمرنا فهو رد.

ژباړه: له قاسم بن محمد او هغه له خپلې عمه ام المؤمنين عائشة رضي الله عنه څخه روايت کړي دي، چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې داسې عمل وکړي، چې موږ ورباندې امر نه وي کړی هغه مردود دی). ۸(

همدارنګه رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: عن ابن عمر رضي الله عنه عن النّبي صلي الله عليه وسلم قال: السمع و الطاعة حق ما لم يؤمر با المعصية فاذا أمر بمعصيةٍ فلا سمع و لا طاعة.(بخاري)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه او هغه له نبي صلي الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی، چې فرمايلي يې دي: د امام خبره منل او اطاعت فرض دی تر هغه پورې، چې د الله څخه په نافرماني يې امر نه وي کړی، او کله چې د الله له قانون څخه په سرغړولو امر وکړي نو بيا يې او اطاعت کول روا نه دی.

پورتني نبوي احاديث پدې په صراحت دلالت کوي، چې هغه نظامونه چې د اسلامي عقيدې سره تناقض لري او د اسلامي عقيدې سره مخالفت لري قبلول او نافذول يې حرام دي او دا د ټول اسلامي امت مسؤليت دی، چې د دغسې نظامونو مخالفت وکړي او د کفري نظامونو جرړې را وباسي او بيا بشريت د سوکالۍ او نېکمرغۍ خاوند شي.

ج- د صحابه وو اجماع:

د صحابه وو رضي الله عنهم په اجماع سره هم دا ثابته ده، چې حاکميت او سيادت يوازې او يوازې د الله جل جلاله او د هغه د شرع ته حاصل دی. هېڅوک دا حق نلري، چې د الهي قانون په وړاندې عقلي او بشري قانون جوړ او نافذ کړي. او د دې ښکاره دليل دا دی، چې د رسول صلي الله عليه وسلم له وفات وروسته خلفاء راشدينو په کتاب الله او سنتو باندې فيصله کړې او په بل هېڅ قانون او شريعت يې پرېکړه نه ده کړې.

له همدې امله هغوی په هغه مسائلو کې، چې نصوص به پکې موجود وو، خپلو ځانونو ته یې اجازه نه ورکوله، چې خپل عقل پکې دخیل کړي. چې موږ یې یوه بېلګه په لاندې ډول بیانوو:
حضرت عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په دوران کې فیصله وکړه، چې ښځه د خپل مېړه په دیت کې برخه نلري. ضحاک بن سفیان الکلابي، چې په دغه پرېکړه باندې خبر شو، هغه خبر ورکړ، چې رسول صلي الله علیه وسلم د اشیم الضبابي ښځې ته د هغې د مېړه په دیت کې برخه ورکړه. حضرت عمر رضي الله عنه چې دا خبره واورېده نو له خپلې رایې لاس په سر شو او د رسول صلي الله علیه وسلم حکم یې نافذ کړ.
په دیموکراسۍ کې د اولس اراده مقدسه ده:
په دیموکراسۍ کې تر ټولو ارزښتمن شی د اولس اراده ده،. هر هغه څه چې اولس وغواړي هغه قانون دی او هغه حق دی، او هر هغه څه چې د اولس لخوا رد شي هغه مردود او د منلو وړ نه دی. دیموکراسي وایي کوم څه چې اولس وغواړي، نو هغه باید حکم شي، اګر که دغه اولسي حکم د الهي حکم سره په تناقض کې وي.
نو کوم الهي شریعت، چې موږ د هغه په اتباع ملزم یو، که د دیموکراسۍ د اولسي قانون سره برابر وو هغه دي، چې منل کیږي او که مخالفت یې درلود، اګر که صریح آیت هم موجود وو بیا نو نه منل کیږي.
چې دا داسې یوه مسئله ده، که څوک له مسلمانانو دا عقیده ولري او ټینګ باور پرې ولري، نو د اسلام له دائرې خارجیږي. الله جل جلاله خپل محبوب استازي سرور کونین له دغه څخه په کلکه منع کړي دي، الله جل جلاله فرمایي:
وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكَ... (المائده ۴۹)
ژباړه: او فیصله وکړه د دوی تر منځ په هغه قانون، چې نازل کړی دی الله او د دوی په خوښو او آرزوګانو پسې مه ځه، او ځان وساته له هغوی، چې واړوی تا له ځینې هغه څه، چې نازل کړی دي الله په تا باندې.
په دیموکراسۍ کې اکثریت رایه معیار دی:
په دیموکراسۍ کې اکثریت رایه د حق معیار ګڼل کیږي، یعنې اکثریت چې څه وغواړي هغه حق دی او اکثریت چې یو څه قبول نه کړي هغه ناحق دی او هغه به نه منل کیږي. هر څوک چې د اولس اکثریت رایه تر لاسه کړي حاکمیت د هغه دی.

په اسلام کې نه یوازې دا چې اکثریت د حق پیژندلو معیار ندی، بلکې قرآن په صراحت سره وایي، چې د حق منونکي کسان لږ دي، الله جل جلاله فرمایي:

وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ (الانعام ۱۱۶)

ژباړه: که ته د ځمکې د مخ د ډېرو خلکو خبره ومنې، نو د الله له لارې به واوړې، ځکه هغوی په گومانونو پسې روان دي او اټکلیان دي.

همدارنگه الله جل جلاله فرمایي: ...وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ (الاعراف ۱۸۷)

ژباړه: خو ډېر خلک نه پوهیږي.

په ډیموکراسي کې اکثریت رایه معیار ده

په ډیموکراسی کې حاکمیت د ملیت سره وي، یعني څه چې ملت وغواړي هماغه کیږي او کوم شي چې نه غواړي هغه مردود او ناروا گڼل کیږي. او که د یو حکم پر سر د خلکو ترمنځ منازعه او د نظر اختلاف راولاړ سي، په دې صورت کې اکثریت رایه د حق معیار گڼل کیږي، یعنې اکثریت چې څه وغواړي هغه حق دی او اکثریت چې یو څه قبول نه کړي هغه ناحق دی او هغه به نه منل کیږي همدارنگه هر هغه چا چې د اولس اکثریت رایه تر لاسه کړي حاکمیت بس هغه وگاته.

خو په اسلام کې داسې نده، په اسلام کې حق هغه دی، چې قرآن، سنت، اجماع او قیاس او نورو شرعي دلائلو حق بللی وي، که څه هم تر شا یې لږ او کمزوري خلک ولاړ وي. یعني په اسلام کي حق په اکثریت نه پیژندل کیږي بلکې د حق د پیژندلو معیار شریعت دی.

همدا د اسلام او ډیموکراسی ترمنځ د ټکر یو بل اساسي توپیر دی.